محمد یوسف خدمتگار

# دلمتېک کلئ

بیا به ګهیځ شي بیا به لمر په ګوړا وځلیږي
بیا به په د غه تورتم کلي رڼا وځلیږ ي
بیا به د ځلوبزګران په درمندو را ټول شي
بیا به بنجر کی د یووالي ښکلا وځلیږي
بیا به غونډۍ کی په کږه کلا کی ټول خاندي
بیا به کرۍ کی د یا دونو ښکلا وځلیږ ي
بیا به چنار لاندی میلې وي اوځوانان به وي
بیابه د کوټو، ونو سراو سود ا وځلیږ ي
بیا به د کلي جنکۍ کو ي اتڼ په ګو د ر
بیا به د کلي هلکا ن په خند ا و ځلیږي

بیا که دې کلي کی یو مشر اکرم خان پیدا شو
یا د عمر با با لمسئ میرزما نخان پید ا شو
د استقلا ل د ولسي لښکر مرکز به جوړ شي
که د مزدور بابا په خیر په کی افغان پیدا شو
بیا به غونډۍ په سر برجونو کی بیرغ ودریږي
که لمتېکو کې لږ یووالئ او ایمان پیدا شو
بیا به کونړ کی لمتېک وي د یووالی نښه
که په قدم د میرزمان یو بل انسان پیدا شو
بیا یرغلګر ټینګیدئ نه شي ارنوۍ به ګټي
بس خدمتګاره که په مونږ کی هغه شان پیدا شو